پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۳/۱۰/۲۰

# هغه خطرونه چی د ځمکی پرمخ ژوند تهدیدوی

( لومړی برخه )

د « **محبت** » پنامه په لندن کی نشریدونکی مهالنی د روان ۲۰۱۳ کال د جون د میاشتی په گڼه می د ښاغلی مهندس رزاقی یوه مقاله ولوستل چی منځپانگه یی ډیره راته په زړه پوری وه . ده خپلی مقالی ته د « فنا و بقأ » سرلیک ورکړیدی . د مقالی پیل پر دی خبره بحث کوی چی د الله پاک ( ج ) ذات تلپاتی او باقی دی ، نور ټول موجودات د بدلون په بنه فانی او پر خپل حال نه پاته کیږی . دی لیکی چی ددی ډول بدلونونو کچه دومره زیاته ده لکه د الترناتیف برق جریان چی په برقی گروپ کی منځته راځی یانی نوموړی گروپ په هره ثانیه کی ۵۰ ځله مری او روښانه کیږی . دا چټکتیا زموږ سترگی حسولای نشی ځکه نو موږ تل گروپ روښانه وینو . یوه بله بیلگه : یو سالم انسان ۶۰۰۰ میلیون میلیون میلیون هیموگلوبین لری . په هره یوه ثانیه کی ۴۰۰ میلیون میلیون میلیون هیموگلوبین له منځه ځی او پر ځای یی نور منځته راځی چی په خپل بدن کی موږ دا دومره بدلونونه اصلاً حس کولای هم نشو . زموږ دبدن په میلیاردونو حجری پدغه موده کی د تغیر او تبدیل په حال کی دی او موږ ورڅخه خبر هم نه یو . دا هم یوه بله بیلگه : راشی د اوبو یو ښیښئی لوښی په نظر کی ونیسو چی دوه د مساوی قطر لرونکی نلونه ور پکښی داسی ځای پرځای شوی چی د یوه د لاری اوبه لوښی ته راځی او دبل دلاری بیرته ور څخه خارجیږی . پدی توگه په لوښی کی اوبه تل د بدلون په حال کی دی ، ولی موږ د نوموړی لوښی په اوبو کی د کچی بدلون هیڅ لیدلای نشو ځکه اوبه هلته تل په یوه کچه را ته ښکاری .

دمقالی لیکوال ( رزاقی ) ددی ډول تغیر او بدلون د یادولو نه پرته د « اختیاری مرگ » او « اضطراری مرگ » یادوونه هم کوی . اختیاری مرگ د صوفیانه نظر له مخی ، دی هغه څه بولی چی انسان باید له مرگ نه مخکی ځان مړ کړی . دا ډول مړینه دتصوف او عرفان د عقایدو سره سم هغه مرگ دی چی انسان په ژوند کی د خپلو نفسانی غوښتنو او شهوانی حرص څخه لاسونه ومینځی ، د فانی نړی د جسمانی لذت څخه تیر شی او د ابدی نړی د لذتونو تر لاسه کولو ته ملا وتړی . ښکاره خبره ده چی دغه « اختیاری مرگ » یوازی د انسان په نصیب کیدلای شی . « اضطراری مرگ » بیا هغه مرگ بولی چی د ژوندی موجوداتو روح له بدن څخه پریکون وکړی او اړیکی یی ورڅخه وشلیږی . **و کل نفسه ذائقة الموت** - هر نفس به د مرگ خوند و څکی . نوموړی لیکوال دلته ددی خبری یادول هم اړین بللی چی پاک خدای د انسان د عمر د اوږدولو دپاره لاری پرانیستی پری ایښی دی . د بیلگی په توگه د طب او تخنیک د پرمختیا له برکته اوس ډیری هغه ناروغی چی پخوا لاعلاجه ښکاریدی ، د درملو یا جراحی په مټ د علاج وړ گرځیدلی دی . ددی مانا داده چی د انسانانو د ژوند و اوږدوالی ته لاره خلاصه شویده .

ښاغلی مهندس رزاقی د خپلو دغو یادوونو د غښتلی کولو په موخه د مقالی دپاره لویه سریزه پیل کړیده چی هلته د قران کریم مبارک ایاتونه او یو په بل پسی د موضوع په تړاو د وتلو شاعرانو لکه حافظ ، خیام ، مولانا ، شبستری او نورو خورا ډیر او په زړه پوری شعرونه راوړی . دسریزی لویه برخه همدا شعرونه او د هغوی تفسیر دی چی خبره د پوهیدلو وړ کچی نژدی کوی . د سریزی وروسته بوللړ علمی مالومات وړاندی کوی چی لوستل او وربآندی خبریدل **دهرچا د پاره اړین او په زړه پوری دی** . د همدی کبله ما وپتیئل چی دا په زړه پوری مالومات پښتو ژبی ته را واړوم ځو لوستونکی یی د لوستلو څخه برخمن شی او خوند تری واخلی .

ماته د نوموړو شاعرانو د شعرونو ژباړل سره لدی چی کله ناکله پخپله هم شعر ته ورته نظمونه لیکم ، اسانه کار نه بریښی . داریږم چی ددغو وتلو شاعرانو اصلی موخه را څخه د ژباړلو پروخت گډوډه نشی ، ځکه نو ښه دا گڼم چی په سریزه کی دنوموړی برخی د ژباړلو څخه تیر شم مگر د منځپانگی ټول اړین مالومات یی په لوړو ځو کرښو کی وړاندی شول .

مهندس رزاقی د نوموړی اوږدی سریزی وروسته په مناسب تفصیل سره د هغو خطرونو یادوونه کوی چی د ځمکی پر مخ ژوند ورسره مخامخ دی . دا برخه ، دی دهغو علمی مالوماتو له مخی لیکی چی د ساینس پوهانو د زیار له برکته تر لاسه شویدی . ماته د یوه ساینس پوه ( جیولوجست ، کان پیژندونکی ) په توگه دغه برخه ډیره په زړه پوری وبریښیده او دادی دمتن پښتو ژباړه یی درنو لوستونکوته وړاندی کوم :

**هغه پیښی چی د ځمکی پرمخ ژوند د خطر سره مخامخ کوی**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

۱ ـ د ځمکې له تل نه اور غورځونکي پيښې او لاملونه يې :

ددې د پاره چې د ځمکې له تل نه د اورونو د راوتلو په علت پوه شو ، ښه به دا وي چې د ځمکې داخلې جوړښت ته يو ځغلند عمومي نظر واچوو . لکه څنګه چې په شکل کې وينو ، ځمکه په عمومي ډول د درو قشرونو ـ خارجي قشر **crust** ، منځنی قشر يا **مانتل mantle** او مرکزی هستې **core** څخه جوړه شويده .




خارجي قشر د کلکو تيږو ( سختواحجار) solid rocks څخه جوړ دی چې د ټول قشر پنډوالی د ځمکې په بيلابيلو برخو کې توپير کوی . د داسې لوړو غرونو لکه الپ يا هماليا په سيمه کې يې پنډوالی تر ۶۰ کيلومترو زيات او په ژورو سمندونو کې بيا تر ۵ کيلومترو پورې هم رسيږی .
د ځمکې د منځنی قشر مواد د magma پنانه د داخلي تودوخې په مټ ويلې ( ذوب ) شوی مواد دی .

( لومړی انځور)

د ځمکې مرکزی هسته بيا دوی برخې يا لايې لري چې خارجي لايه يې اوبړن مواد او مرکزی داخلي برخه يې کلک او جامد مواد دی . د ځمکې په مرکزی برخه کې د تودوخې درجه تر ۵۰۰۰ سانتي ګراډ پورې رسيږی . د ځمکې په دننه کې د تودوخې د زياتوالی له کبله په منځنی قشر ( مانتل ) کې د مګما حجم زياتيږی او هڅه کوی چې د خارجي قشر و ځينو برخو ته ور ننوزی او بهرته د وتلو لاره پيدا کړی . کله چې يې خارجي سطحې ته لاره وموندنه نو لدغه




سوری ( مجرا ) څخه اورونه هواته غورځي چې د اورپاشنې يا اتشفشان پنامه ياديږی . دا هغه سوړه ده چې د لارې يې د ځمکې د دننه څخه اورونه ، ويلې شوی ډبرې (مذابه) ، ګرمې ايرې او خاورې او همدارنګه ګازونه بهرته خارجيږی ( مګما چې کله د ځمکې سطحې راووځی نو د <u>لاوا</u> پنامه ياديږی . ژباړ) .

( دويم انځور )

لوی او واړه اورپاشونکی ځايونه :

دا مهال د ځمکې مخ په بيلابيلو برخو کې لوی او واړه فعال اورغورځونکی ځايونه شته . برسيره پر دی يو شمير نور ځايونه هم شتون لری لکه د « دماوند » پنامه سيمه چې يو وخت هلته دا ډول اورپاشنه فعاله وه او اوس ارام دی ، مګر دا امکان شته چې هغه بيا په فعاليت لاس پورې کړی او ورونه وپاشې . خو ددې کار د پاره د ټاکلې وخت وړاندوينه لا تر اوسه اسانه ندی او له همدی کبله يې د خطرونو څخه مخنيوی کيدلای نشی .

اورپاشنه برسيره پر دی چې پخپله سيمه کې زيانونه اړوی ، هغه لوخړی ، ګازونه او ايرې چې ورڅخه هواته پورته کيږی ، کيدلای شي تر ليرې سيمو پورې ورسيږی او د يوی مودې دپاره ان د لمر د وړاګو مخ ونيسی ، ډيره زياته يخنی منځته راولی او د لويو ناخوالو لامل و ګرځی . د بيلګې په توګه ځيرنو ښودلې ده ، هغه اورپاشنه چې په ۶۴۰ م. کال په اندونيزيا کې پيښه شوه ، د نړی په زياتو برخو کې يې تر انګلستان پورې بيشميره زيانونه انسانانو ته واړول.

بله ستره اورغورځونکی پيښه چې د اړوندو پوهانو په نظر د ميلاد نه ۱۴۷۰ کاله وړاندی د يونان په « اژه » نومی جزيرو کی منځته راغلی ، د قدرت کچه يې د هايډروجنی بم ۱۳۰ برابره وه . پوهان دا هم وايی چې په سمندر


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کی یی د سونامی داسی موجونه منځته راوستل چی لوړوالی یی تر ۵۰ مترو پوری رسیدی . دغو موجونو د « کرت » په جزیرو کی یو ستر تمدن په بشپړ ډول له منځه یووړ .
د Pompeii پنامه اورغوځونی چی د میلاد څخه ۷۹ کاله وړاندی منځته راغله ، یو په بل پسی یی انفجارونو د اورونو دومره ستری کتلی ( لاوا ) د ځمکی پرمخ و ښندلی چی د پمپی د سیمی ټول ښارونه یی تر اور لاندی کړه ، ټول انسانان او ژوی یی له منځه یووړه . اټکل کیږی چی پدغه پیښه کی ۱۶۰۰۰ کسان تلف شویدی .
دسیسلی د جزیری په شمال ختیز کی د « انتا » پنامه اورغورځونکی غر هم یو له مهمو اورپاشنو ځایونو څخه دی. دا غر د ۳۳۵۰ مترو په لوړوالی د اروپا تر ټولو لوړ غر ګڼل کیږی چی دا مهال هم د فعالو اورغورځونکو ځایونو په ډله کی راځی .
انتا تر اوسه پوری له سل ځلو څخه زیات په جوش راغلی او اورونه یی پاشلی دی . حدس وهل کیږی چی لومړی جوش یی د فیثاغورث د ژوند پر مهال وو . په ۱۱۸۳ م. کی یی بیا دومره اورونه وښندل چی د ۵۱۰۰۰ یوپنځوس زرو انسانانو ژوند یی تری نه واخیست . په ۱۶۶۹ او ۱۶۹۳ کی بیا لیونی شو او ډیر خلګ یی دمرګ کندی ته وسپارل .
د اورغورځونکو پیینو څنګیز ( جانبی ) خطرونه هم د ډیرو ناخوالو لامل کیدلای شی ، دا هغه څه دی چی دا کار زلزلی منځته راولی او زلزلی بیا د لا زیاتو مصیبتونو سبب ګرځی . د بیلګی په توګه په ۱۹۰۸ کال د « ابرامسینا » زلزلی ۸۳۰۰۰ انسانانو ژوند واخیست .
د اورغوځونکو ځالویونو شمیر:
ددی ډول ځایونو دقیق شمیر مالوم ندی خو داسی ښکاری چی د بشر په تاریخ کی په میلیونونو اورپاشنی پیښی راغلی دی . یوازی په تیرو لسو زرو کلونو کی ۱۵۰۰ ځله د ځمکی له تل نه اورونه راوتلی او پر ځمکه خپاره شویدی . د سمندر تر اوبو لاندی خو بیا د اورپاشنو شمیر اصلا مالوم ندی . دامهال ۶۰۰ اورغورځونی په تاریخ کی ثبت شوی چی لدغی ډلی یی اوس د ۵۰ څخه تر ۷۰ پوری فعال ګڼل کیږی .

د لومړی برخی پای    پاته برخه مه هیروی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ